ولي الله ملکزی

۲۰۲۱/۰۶/۱۴

# د نړېدلو منارو اوښې

يو پلو ته د چسپکي بمونو او هدفي وژنو لړ ګډ دی؛ د شمله ورو د جنازو اعلانونه او انځورونه بلا ناغه د ټولو رسنيو د منځ ټکي دي. بل پلو ته د کورونا ناليدلي غليم، ځموږ د وطن په نازولو ناتار ګډ کړی او ډله ډله د مرګ حلاجي ته سپاري. بني اسرائيل د مصر د (تيه) په دښتې او د کوه طور په لمن کي څلويښت کاله سرګردانه ګرځيدل، ځکه چي د حضرت موسی (ع) خبره يې بابيزه ګڼله. افغانان هم د څلويښتو کالو راهيسي د سپېڅلي جهالت، فقر، بې عدالتۍ او د ساينس سره د ناغيرۍ سيلاب لاهو کړيدي. هر خس او خاشاک ته لاس اچوي، خو دمګړی داسي نه ښکاري چي د رغون او بدلون کومه مزبوته اراده دي ولري.
ځوک د کرونا درملنه په تعويذ باندي کوي، ځيني يې غټه تبه بولي او شرميږي چي ووايي کورونا نيولی يم او داسي جنابان هم شته چي هغه د کاپيرو سازش ګڼي. دوئ انګيري چي ګوندي کفار غواړي موږ له جومات او مصافحي څخه منعه کړي. خو دا هيروي چي په جوماتونو کي په سجده پراته مؤمنان، د چا له لاسه پخپلو وينو کي لامبي. همدا وجه ده چي د الله ساده بنده ګان، د بنده ګۍ په دې سوتره او سيده لاري کي د کعبي او ترکستان ترمنځ، د ابهام په کشمکش کي تيندکونه وهي.
مازې د دي اوښې په ترڅ کي د قلم د يو نيازبين غازي، اروابناد مصطفی عمرزي د غسل تخته لا وچه نه وه چي د سيمي په کچه د يو سترګه ور لرغونپوه، پوهاند باوري د مرګ خبر د لر او بر خلک ښه سم خپه کړل. دوه ورځي وروسته مو د کونړ د صافي قوم د ياد مشر اوغښتلي جنرال، مطيع الله خان صافي جنازه د هيواد په درې رنګي بيرغ کي پوښل شوې وليده چي د تورو خاورو ميلمنه شوه. د اکسيجن د نه شتون له امله، د جهاد، سولې او منبر يو تکړه داعي، قاضي محمد امين وقاد هم د ابديت په لور خپل سفر پيل کړ. قاضي محمد امين وقاد چي د هجرت په پيل کي يې ملتيار تخلص کولو او بيا يې په وقاد باندي بدل کړ، د اسلامي غورځنګ د مخکښانو او منلو جهادي سرلارو څخه وو .
د ۱۹۹۹م کال، غالبا د مي مياشت وه چي زه او زما قدرمند دوست زبير شفيقي (د ويسا اخبار چلوونکی) د پيښور په بورډ کي د اروابناد قاضي وقاد کور ته د مرکي لپاره ورغلو. هلته استاذ محمد زمان مزمل او ډاکتر محمد انور هم ناست وو. زما د يوې پوښتني په ځواب کي يې د اعتراف په ډول وويل «اخوانيان د حکومت کولو تجربه نه لري او موږ د يو طرفه جادي په سرک روان يو. دا هغه څه دي چي د جهاد له روحيي او د ولس له تمې سره چندان اړخ نه لګوي» د سندريز هنر د مشهورې ځيرې، عبدالله مقري مرينه پخپل ځای داسي تشه ترشا پريښوده چي ډکول به يې ګلونه ونيسي.
تيره ورځ د خپل ولس په درد، درمند او په غم يې غمګين نوميالی ژورنالست او ځيرونکی، ډاکټر نبي مصداق هم د کرونا قرباني شو. په ۲۰۰۹ ميلادي کال کي ما او اروابناد مصداق د ويرجينيا ايالت په يوې ځيرنيزې مؤسسي کي د پښتو د ورځنۍ محاورې لپاره د نصاب د جوړولو په ځانګي کي کار کولو. يوځل د مختلفو ژبو د همکارانو ترمنځ د پيژندګلوی او د کلتوري مشترکاتو په هکله يو سمينار جوړ شو. بلا خلک را ټول شوي وو، موږ يوازې د غرمنۍ لپاره د نيم ساعت دمه درلوده. سخت زول او شرکنده باران وو، نه مو د لمونځ لپاره وخت درلود نه مناسب ځای. زما دې ګران دوست له لاسه کلک ونيولم او راته يې وويل « کونړی اشنا چرت مه وهه، ځما موټر د بلډنګ د دروازې سره جوخت ولاړ دی، هلته به رب ته سر ښکته کړو. هغه له بنده ګانو سره د نيت په تلې حساب کوي، نه د جاينماز په رنګونو او وريښمينو تارونو.»

له لمانځه وروسته یې راته وویل «زه یو وخت د لمانځه او اوداسه ډیر پروا ګیر نه ووم، خو شکر اوس یې پرما قضایي نشته» مخکې له دې چې زه ور څخه د دغه مثبت بدلون او انګیزې پوښتنه وکړم، پخپله را ته ګویانه شو « دوه کاله وړاندې مې ځوی یو ویشت کلن شو، ما او میرمن مې تصمیم ونیو چې دا باید کوم ځای ته د چکر لپاره ولیږو. کله چې ماښام کور ته راغی د عمرې ټکټ یې مور. دواړو ته په مخ کې کیښود. پلار جانه دا ځما د خپل لاس ګټلې پیسې دي، غواړم د الله تعالی کور ته لاړ شم. په هماغه شیبه، ما او میرمن مې نیت وکړ چې ځوئ مو په دې ځوانی کې له دین سره دومره مینه کوي، مور. باید په دې سپینو ویښتو حیا وکړو او لمونځ نور قضا نه کړو«
بله نادره کیسه یې راته د همدې کمپنۍ په بل کنفرانس کې وکړه، کومه چې ما ته د کیسې په ځای یوه جالبه او مجربه نسخه بریښي. لکه څمور. د مسلمانو ټولنو په څیر، په لویدیځې نړۍ کې هم د کټاسو او متعصبو خلکو کمې نشته. په دوئ کې ځیني د (محمد) له نوم سره غیر ارادي حساسیت لري او څمور. د رښتیني رسول (ص) نوم یې په غوږونو ښه نه لګي. اروابناد مصداق را ته وویل « څو ورځې وړاندې دلته دفتر ته راتلم چې د یوې سپین سرې ښځې موټر په واوره کې بند پاتې وو، زه وربانډې خدایي ور برابر شوم. هغې ته مې وویل ته جیلب ته کښینه زه به موټر ټیله کړم چې د سړک یوې څنډې ته یې کړو. کله چې موټر غاړې ته شو نو د بوډۍ وچولې وغوړید او ویې پوښتلم نوم دې څه دې؟ ما ورته وویل: محمد. ډیره مننه یې را څخه وکړه او زه ترې لاړم. ما په قصدي ډول هغې ته د خپل پیغمبر نوم یاد کړ ترڅو پوهه شي چې د دغه رسول امتیان، مینه ناک او خواخوږي خلک دي. دوئ له لارې څخه د ازغي په لرې کولو او بې وسو ته په لاس ورکولو باندې ثواب ګټي.«
دا به د خالق تعالی رضا وه چې په تیرو اوو ورځو کې د پوهې، سولې، سنګر او هنر دغه دنګې منارې یوه په بلې پسې راپریوتې. ولی په لوی لاس باید پرینږدو چې دا باقي پاتې منارې مو رانسکورې شي. کنه نو، د تل لپاره به د ناپوهۍ په تیارو او د ذلت په زولنو کې بندیوان پاتې یو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ